# د ښځو د زده کړې حقوق په اسلام کې

**الله(ج) عادل ذات دی!**

ددې خبرې څخه څرګندیږي چې الله(ج) د ټولو مخلوقاتو تر منځ عدالت غواړي او هغه که نر وي او که ښځه الله(ج) یې تر منځ عدالت غواړي. دا خبره ټولو حقوقو ته شامليږي، او زده کړه هم په حقوقو کې شامليږي ،دا چې زده کړه حق ده نو ښځه هم ددې حق څخه نه ده محرومه، خو ښځه د زده کړې حق لري خو په مشروط ډول ( باید د اسلام په شرایطو برابر د زده کړې ځایونه ته تګ او راتګ وکړي) . اسلام داسي یو مبارک دین دی چې هر چاته یې خپل حقوق برابر ورکړي دي، او اسلام چې ښځو ته کوم شرایط بیان کړي نوباید ښځه هغه مراعات کړي او د نارینه وو سره یوځای د ټولنې د پرمختګ لپاره متې را ونغاړي. اخر کې دا باید ووایو څوک چې د ښځو د تعلیم د حق څخه منکر وي هغه د الله(ج) په عدالت باندې باور نه لري.

**حضرت محمد(ص) رحمت العالمین ده نه رحمت الرجل!**

الله(ج) موږ ټولو ته حضرت محمد(ص) ددې لپاره رالیږلی چې تر څو ټول انسانیت د جهل له بربادوونکي توپان څخه و ژغوري او د علم په رڼا یې و نازوي. او دا بربادوونکی توپان صرف نارینه نه تباه کوي بلکې ښځې هم ترې تر بل هر چا زیات رنځ وړي. نو هغه مبارک یوازې نارینه وو لپاره رحمت نه ده بلکې هغه ټول عالمیت ته رحمت ده.

ځینو اسلام کې خپل حقوق مطالعه کړي او د نورویې نه دي مطالعه کړي صرف ځان ورته ښکاري چې د هرڅه حق لري او نور ورته هسې خوشې بوتلان ښکاري او په خپل ذهني تحلیل سره د ښځو په زده کړه باندې د رد ټاپه لګوي.

نو ځکه خو حضرت محمد(ص) د ټولو مخلوقاتو لپاره رحمت ده، او ښځه هم ددې رحمت څخه نه ده بې برخې. او اخر کې به دا خبره وکړم څوک چې د ښځو د تعلیم نه منکریږي هغه په اصل کې د حضرت محمد(ص) په دې صفت منکر ده.

**نوټ:** په اسلام کې عدل شته او هر چاته په برابر ډول حقوق ورکوي اوس چې زموږ ټولنه کې څوک د ښځو د زده کړې له حق څخه منکر ده هغه د اسلام له تفسیر څخه غلط برداشت کړې او یا خو بیخي د اسلام په هغه اصلي هدف چې هغه د جهالت څخه د خلکو راویستل دي نه بوهیږي.

Ketabton.com

د حضرت محمد(ص) فرمايي دی ارشاد مبارک: [illegible] باندې د علم زده کړه فرض ده.

او ځینې مسلمانان ددې حدیث مبارک نه غلط فهم اخلي او وایي چې ددې څخه مطلب اسلامي علم دی نه دنیوي علم. او راځو اوس د هغه وخت او د اوس وخت پرتلې ته، هغه وخت دنیوي علومو دومره پرمختګ نه وه کړې خو بیا هم په ساده ډول موجود وه یوه واقعه د حضرت عمرفارق (رض) د زماني بیانووم؛ یوه ورځ دی مبارک د خپل عادت مطابق د شپې له کوره راووته چې د یوه شخص ښځه په اولاد مریضه ده نو سمدستي بیرته خپل کورته راځي او خپله ښځه له ځان سره ملګرې کوي او دهمغه شخص کورته ورځي او د عمرفاروق(رض) ښځه مبارکه د هغه شخص د ښځې خدمت کوي او د ښځې اولاد په صحیح او سلامت ډول پیداکیږي نو اوس ددې مثال په وړاندې کولو اکتفاء او خبره د عقل خاوندانو ته پریږدو.

او ځینو ته چې دا خبرې او دلائیل وړاندې کړې نو بیا وایي طب کې ورته ضرورت شته ممانعت یې نه کوو طب دې ووایي هیڅ خبره نشته، خو دوی بیا وایي چې ددوي ژورنالیز، حقوق او داسي نورو علومو ته څه ضرورت ده هلته دوی هیڅ نه شي کولاې هغه ټول د نارینه وو کار ده.

ketabton.com - The Digital Library

## د ښځو د زده کړې حقوق په اسلام کې

نو اوس دداسې خلکو لپاره لږ منطقوي او لږ فلسفي بحث پکار ده چې ددوي اذهان لږ روښانه شي.

1. **لومړې عقلي دليل د طب په برخه کې:** په قرآن عظيم الشان کې د ماشوم د پيدا کيدلو ټول ادوار په منظم ډول تشريح شوي او د خلکو د ذهنونو د پراختيا لپاره او دهغې څخه د ګټې اخيستنې لپاره الله(ج) په قرآن عظيم الشان کې دا طبي بحث کړې ده، اوس راځو اصلي مطلب ته په قرآن عظيم الشان کې ددې مسئلې نه مخکې او نه وروسته او نه په کوم بل ځای کې دې خبرې ته اشاره شوې چې دا مسئله صرف د نارينه وو لپاره ده او هغوي دې په دې مسئله کې څيړنې وکړي او معلومات دې راغونډ کړي بلکې دا مسئله په عمومي ډول د هر چا لپاره بيان کړې ده نو داده الله(ج) په طب کې په دوي باندې ممانعت نه ده راوستې نو يو نارينه بيا څوک ده چې ددوي دا حق ورځيني اخلي په هيڅ صورت څوک دا حق نه لري چې ددوي دا حق ورنه په يوه نه ويلوسره واخلي. او يوه بله په زړه پورې خبره الله(ج) په قرآن عظيم الشان کې مسلمانان دی ته تشويقوي چې تاسې علم وکړئ که غواړئ کاميابه شئ د ژوند په ټولو اموراتو کې او ځای ځای فرمايي او بې علمي يې له ړنديدو سره، تيارې سره او داسې نورو حالتونو سره تشبې کړې ده.

2. **دويم عقلي دليل د قضاء او څارنوالۍ په برخه کې:** الله(ج) په قرآن عظيم الشان کې په تفصيل سره د ميراث مسئله ذکر کړې ده او دا مسئله هم په عامه ډول د ټولو مسلمانانو په خدمت کې ايښې ده هغه که نارينه دي او که ښځينه دي نو ددې حق څخه هر څوک مستفيد دي او هيڅوک نشي کولې چې دی مسئله کې اصلاحات راولي يعنې نشي کولې چې ددې مسئلې زده کړه او په دې برخه کې کار کول د نارينه يا د ښځينه وو مربوط کړي بلکې دواړه بغير له کوم ممانعت څخه په دې برخه کې زده کړې او کار په خلاص مټ سره کولی شي. نو دې مسئلې څخه څرګنديږي چې ښځه په قضاء او څارنوالۍ کې زده کړه او دنده دواړه تر سره کولای شي.

3. **دريم عقلي دليل د ژورناليزم په برخه:** موږ او تاسې د ژورناليزم د نوم په اوريدو سره داسې فکر کوو چې د يو لوري پيغام، خبر او امر د بل لوري د خبرولو او هغوي ته د امر د رسولو څخه عبارت ده، چې تر څو خلک د پرمختګ، اصلاحاتو،عامه حقوقو او داسې نورو موضوعاتو څخه خبر شي، او د خلکو اذهان د راتلونکو خطراتو مقابل کې اماده شي او په وخت سره اقدام وکړي، که خطر ورته مواجې وي ددفعه کولو لپاره هڅه وکړي او که کوم بل مسلمان ته مواجې وي هغه سره هم مرسته وکړي او له خطراتو يې وژغوري، چې په پايله کې د خلکو تر منځ نظم، وروګلوي،مينه محبت، او په يو بل باور زياتيږي او ټولنه د سوکالۍ، آبادۍ او پرمختګ په لور سوق کيږي نو دا دومره لويه او عظيمه وظيفه ده چې کوم مسلمان يې ترسره کړي او د ټولنې ليد لورۍ د پر مختګ په لور سوق کړي نو د الله(ج) په نزد به يې څومره ثوابونه وي. نو اوس راځو د موضوع اصلي مطلب ته او په اسلام کې د ښځې لپاره په دې برخه کې زده کړې کول او دنده تر سره کول تر بحث لاندې نيسو. حضرت عائشه(رض) د حضرت محمد مصطفی(ص) بي بي مبارکه وه او اُم المؤمنين ده، دې مبارکې چې د حضرت محمد(ص) نه څه الهي اوامر اوريدلي ول هغه په پوره امانت او ديانت سره مسلمانانو ته رسولي دي. نو ددې مبارکې د ژوند دې مسلک ته که وکتل شي نو ښځو ته د ژورناليزم په مسلک زده کړې او کار روا ګرځي او هره ښځه کولای شي چې د اسلام په چوکاټ کې د ديني مقدساتو ته په احترام سره د ژورناليزم په مسلک کې زده کړې او کار وکړي.

4. **نقلي دليل او يکې د ښځې سياست کې د ګډون حق:** دلته هغه واقعه بيانووم چې د مکې د فتحې په ورځ پيښنه شوه هغه داسې واقعه وه: حضرت محمد(ص) د مکې د فتحې په ورځ د لسو کسانو

ketabton.com - The Digital Library

## د ښځو د زده کړې حقوق په اسلام کې

په اړه چې هغو لسو کسانو کې د حضرت ابوثفیان(رض) ښځه هنده بنت اخطب هم شامله وه د وژلو دومره قطعي امر کړې وه چې ویلي يې ول که چا د کعبې د مبارک غلاف لاندې هم وموندل دا کسان نو ودې وژل شي په دې وخت کې یوه ښځه اصحابه حضرت اُم هاني(رض) دې نفرو ته فناء ورکوي او حضرت علي(کرم الله وجه) راځي او دې اصحابې ته وایي دا کسان ماته راپریږده چې زه يې ووژنم ځکه چې حضرت محمد(ص) يې د وژلو امر کړې ده هغه مبارکه ورته فرمايي زه دا هیچا ته نه پریږدم چې ویې وژني ځکه چې ما فناء ورکړې ده، حضرت علي(رض) د الله(ج) رسول مبارک ته ورځي او له ځان سره يې را ملګرې کوي او جریان ورته بیانوي کله چې دوي اصحابې ته رارسیږي نو دی مبارک اصحابې ته وایي چې ته ولې علي(رض) نه پریږدې چې دا کسان ووژني هغه ورته وایي یا رسول الله(ص) دوي ته ما فناء ورکړې ده حضرت محمد(ص) ورته وایي چې تا چاته فناء ورکړې هغوي ته موږ هم فناء ورکړې ده. نو دې واقعې ښخه د ښځې موقف په اسلامي سیاست کې ښکاره کیږي. نو اوس که موږ ووایو بده به نه وي چې ښځه په اسلامي سیاست کې کولې شي زده کړې وکړي او کار هم تر سره کړي.

**نوټ:** ددې دلیلونو ښخه ښرګندیږي چې ښځه کولی شي د اسلام د اصولو په مراعات سره په هره برخه کې چې دا وغواړي زده کړې وکړي او په هغه برخه کې د اسلام تر سیورې لاندې کار هم وکړي.

**موجود حالات افغانستان کې:** په افغانستان کې اوس د تعلیم کچه ۴۲٪ سلنه ده او دا ټیټه د زده کړې سلنه ددې ښکارندویي کوي چې افغانستان وروسته پاتې ده او دا د وروسته پاتې والي عامل په لوړه کچه ښځو ته په پوره ډول ښنګه چې لازمه ده هغسې د تعلیم حق نه ده ورکړل شوې او په تعلیمي برخه کې ورته په پوره ډول ضمینه نه دمساعده شوې.

**پنزونه او لیکنه**

**محمد نثار انصاري**

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د کندهار پوهنتون**

**د حقوقو او سیاسي علومو**

**د قضاء او ښارنوالی**

**ښانګي محصل**

**لومړی سمستر**

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*